# The Martial Race Theory and Pashtuns: A Historical Analysis

## د جنګي نسل (مارشل ریس) تهیوري او پښتانهٔ : یوه تاریخي څېړنه

Dr.Barkat Shah Kakar*

Abstract:

In the wake of European Colonialism, occident created an orient which was in all means inferior, backward, less-civilized and wild. Orientalists who worked with British India during 19th and 20th centuries have created an image of Pashtuns which confirm Pashtuns as medieval, warlike, wild and childish (1). These notions have long been resonated even after the post-colonial era. Critical analysis of the narratives and commentaries by orientalists unpacks the reality that these notions have been coined for peculiar colonial subjugation, British Empire's cultural and political domination. These tropes and metaphors are regenerated in the postcolonial era by the cadres of researchers, anthropologists and ethnographers. The theory of Martial Races evolved after the War of Independence in 1857. The military regiments that remained strict to their colonial masters and repulsed the people movement to overthrow the British Empire from India, after crushing the movement the British Raj directly took the reins of empire in India, and they formed an exclusive army consisted of the races who stood fast and consistent to the Raj. In this connection, the Martial Race theory was coined which unilaterally advocates that the loyal races are by nature warriors and possess strong martial spirit; on the contrary the races who revolted are the one who do not possess the innate capability to become the soldier the Queen. This paper tends to explore the impacts of the so-called Martial Race theory on the self-image of Pashtuns.

**Key Words: Martial Race, Theory, Pashtun, British India, Colonial Narratives**

د موضوع پېژندګلو:

په کال ۱۸۵۷ کښې د هند د آزادۍ ستر پاڅون (جنګ آزادي) که څه هم د انګرېزي ایسټ انډیا کمپنۍ د استعماري شکنجې څخه وایستله خو د برتانوي سامراج د غلامۍ د جغ څخه هندوستان او د افغانستان سیمي خلاصي نهٔ شوې. البته د برتانئې په پارلیمان کښې ئې یو زوروره ذلزلهٔ ضرور راغله ، د ګورنر جنرال پر ځاے اوس د وائسراے وظیفه په وجود کښې راغله.د هندوستان د ستر پاڅون تر ټولو بنیادي سوب د کمپنۍ مطلق ظلم او د ګورنر جنرال "لارډ دلهوزي" غیر زمه واره رویه ګڼل کیږي، او د برتانئې پارلیمان په میلادي کال ۱۸۵۸ کښې ایکټ پاس کړاو په هندوستان کښې له ایسټ انډیا کمپنۍ څخه هر ډول انتظامي، سیاسي، قانوني او تجارتي اختیارات واخیستل، په هند کښې چې کمپنۍ څومره املاک، جائیداد او مالي شته مني کوټهٔ (جمع) کړې وه، هغهٔ د برتانئې و تاج ته منتقل شوه او کوم فوځ چې دلته شتون درلود هغهٔ نېغ په نېغهٔ د برتانئې د رانۍ ویکټوریه تر امارت لاندې و ګڼل شو د کمپنۍ د ډائیریکټرانو پرته اوس واک د برتانئې و دولتي سیکرتر ته منتقل شو چې پینځلس کسیزه کونسل به ئې تقرري کوله کوم چې د ملکې له خوا د دې مقصد لپاره جوړ شوےؤ چې پر

* Assistant Professor, Department of Pashto, University of Balochistan Quetta

هندوستان د برتانوي راج واکمنۍ ته دوام و بخښي. هم دغۀ ډول د برتانئې ملکې اوس د ګورنر جنرال پر ځاے د "وائیسرای" او د برتانوي هندوستان د صوبو د ګورنرانو تقرري کوله، البته د برتانئې پارلیمان په کال ۱۸۷۴ کښې یو ایکټ پاس کړ چي له رویه دایسټ انډیا کمپنۍ په بشپړۀ توګه ختم شوه.

په هند کښې د ملکه ویکټوریه د واکمنۍ سره سم په بیلا بیلو څانګو کښې اصلاحات منځ ته راغلل، خصوصا په انتظامي، قانوني، تعلیمي او عسکري څانګو کښې اصلاحات و شول. خو د عسکري څانګې اصلاحات داسي وو چي زموږ د موضوع سره نېغ په نېغۀ علاقه لري.

د برتانئې په پارلیمان کښې د ۱۸۵۷ د هند د ستر پاڅون (جنګ آزادي) وروسته تر ټولو لویه پوښتنه دا راپورته شوې وه چي آیا نور پر ځایي عسکرو باور کول پکار دے که یا؟ یوې خوا ته ایسټ انډیا کمپنۍ ذیاتره مسئولین له کاره ګوښه کړل شول، کوم ظالمانه ټیکسونه او خراجونو چي هغوے د هند پر زرعي او صنعتي سیمو لګولي وو په هغو کښې تر ډېره حده اصلاحات وشول، و بل پلو ته د عسکري ادارې د بیا نظم کولو لپاره هم هلي ځلي پېل شوې. په دې حقله یوه بنیادي پریکړۀ دا منځ ته راغله چي باید د هغۀ ټول عسکر چي د هند د ستر پاڅون پېلامه وګرځېدل او د برتانوي هند په ضد ئې توپک پورته کړ په سزا ورسېږي، او چا چي د انګریزي استعمار سره مرسته وکړۀ هغوے ته انعامات او امتیازات ورکړل شي.

د هم دې بحث په نتیجه کښې د مارشل رېس تهیوري یا د جنګیالي توکمنو (نسلونو) تهیوري را منځ ته شوه. د دغه تهیوري د عملي کولو لپاره برتانوي راج یوه تګلاره وضع کړه، د کوم له کبله چي په راتلونکي یوه صدۍ کښې پښتانۀ د جنګیالي توکم (مارشل رېس) په صفت و پېژندل شول. په دې مقاله کښې د هم دې تهیوري پر تاریخي بنسټونو ، استعماري تګلارو او په راتلونکي کښې د پښتنو د ځانګړې شناخت په حقله څېړنه د نوي تاریخیت (Neo-Historicism) په هینداره کښې شوې ده.

### د هند ستر پاڅون او مارشل رېس تهیوري:

د انګریزي استعمار او د افغانستان د دوراني سلطنت تر میان د ستري لوبې په ترڅ کښې په عمومي توګه درې جنګونو را منځ ته شوي دي، په دې حقله لومړے جنګ (له ۱۸۳۹ څخۀ تر ۱۸۴۲ پورې) په هر لحاظ سره د سیاسي او عسکري تاریخ یو مهم ډېرلیک ګڼل کیږي، ولي چي په دې جنګ کښې افغانانو د خوردکابل په دښته او غرونو کښې د برتانوي هیند د لښکر هغۀ ټوله عسکر او د کیمپ خاوندان ؤ وژل یا ئې برمته کړل کوم چي د کابل پر تخت د شاه شجاع د کښېنولو لپاره راغلي وو. د یادوني ده چي په کال ۱۸۱۵ کښې د واټر لو په جنګ کښې انګریزي سامراج و خپل پخواني یورپي دوښمن د فرانس و نامتو جنګیالي او سیاسي نابغه نیپولین بوناپارټ ته کلکه ماته ور کړې وه، چي له کبله ئې د ایشیا ، افریقا ، اسټریلیا پر سیمو اوس باداري او سامراجیت ډېر ټېنګ شوےؤ. کله چي د لومړي انګریز – افغان جنګ په ترڅ کښې انګریزانو ته غابښ ماتونکې ماته ورکړل شوه، او د ډېرو انګریزي افیسرانو او ځینو جرنیلانو او لوړ پوړو سفیرانو ککري ماتي کړل شوې له هم دې ځایه یوه پلو ته د په منځني ایشیا

کښې او بل پلو ته د هیند په کوشنے وچې کښې هم دااسطوره د اولسونو په زړونو او ذهنونو کښې مړه شوه چې انګریزي لښکري نه شي ماتېدلی. هم دغهٔ وجه وه چې په کال ۱۸۵۷ کښې په هیند کښې د سترپاڅون(جنګ آزادي) لپاره اولسونه او د کمپنۍ باقاعده لښکري را و پارېدلې. دغهٔ پاڅون ته په اصطلاح انګریزي لیکوالان غدر(Mutiny) وائي، کوم چې په بنیادي توګه الهام د افغانانو د مبارزې، مقاومت او پاڅون څخهٔ اخیستےؤ.
د هیند د دې پاڅون په سوب د ایسټ انډیا کمپنۍ د واکمنۍ کمبله ټوله شوه، او په میلادي کال ۱۸۵۸ کښې د برتانئې پارلیمان ایکټ پاس کړاو له هندوستان څخه د ایسټ انډیا کمپنۍ د افیسرانو او انتظام کارانو هر ډول انتظامي، سیاسي، قانوني او تجارتي لاسونه وختل. د دې وروسته موږ ګورو چې په عسکري توګه هم داسي تشکیلات وشول چې هغهٔ ټول نسلونه چې په دې جنګ کښې د انګریز ایسټ انډیا کمپنۍ د لښکرو په ضد درېدلي وو هغهٔ په مجموعي توګه د برتانوي راج د فوځ څخه و ایستل شول. د نوي فوځ د تشکیل په حقله چې د جنګیالي توکمنو یا نسلونو کومه تهیوري په وجود کښې راغله هغه پښتانهٔ هم په دې صف کښې ودرول چې بیا وروسته تر یوې صدۍ پورې د جنګیالي نسل په صفت پېژندل کیدل.
جیورج میک موهن هغه لیکوال دے چې د جنګیالي نسل د تهیوري پر موضوع ئې تر ټولو لومړے یو بشپړهٔ کتاب لیکلے دے ، هغه په خپلو ټولو کتابونو کښې و نسلي توپیر او د سپین پوستو فطري واکمني او د قدرت له لوري د هغوے د باداری لپاره چڼ (انتخاب) یو اټل حقیقت ګڼلو، د مارشل ریس په حقله په خپل لوري لیکل شوي کتاب کښې داسي لیکي:

"The Mutiny ended the old system of a regular Indian Army, Infantry, Cavalry and Artillery, dressed and clothed like the pre-Crimean Army of Great Britain and modeled generally on the Queen's Service so far as exteriors went, but a brotherhood in itself worshipping the ways of caste and somewhat dead to the ways of war and the habits of efficiency"(2)

ژباړهٔ:
د بغاوت سره سم د هند د باقاعده عسکري اداري زوړ نظام کښېنوست، سپاهیان که پیاده وو که سپارهٔ، او که توپچیان وو، هغوے ته داسي درېشي ورکول شوه لکه څه ډول چې د برتانئې عظیم فوځیانو چې به د کریمین جنګه څخه اول اغوستله، اوس پردي د خپلو له قطاره جلا کړل شول، د عسکرو روزنه پر دې بنیاد وشوه چې هغوے به ذیاته د ملکې و خدمت ته ملا تړي، خو کومه وروولي چې (په ځایي فوځونوکښې) شتون لري هغهٔ د جنګ د ذات و بود تر اثر لاندي خپله بنهٔ و موندله مومي، خو کله چې د جنګ د طور طریقو خبره راسي او د کارکردګۍ (مہارتي) خبره رامنځ ته شي نو دغهٔ د ذات او قوم اثر مړاوې شي".
د عسکري اصلاح سره سم دا پرېکړه وشوه چې هغه قومونه یا توکمونه (نسلونه) باید په بشپړهٔ توګه د عسکري خذمت څخه ګوښهٔ کړل شي چې د هند په ستر پاڅون (د ۱۸۵۷د خپلواکۍ جنګ) کښې یې د انګریزي استعمار په ضد توپک پورته کړےؤ. ځکه هغه څوک چې بغاوت ئې کړے وو، غیر جنګیالي قومونه و ګڼل شول او هغهٔ چا چې په بغاوت کښې ئې لاس نه ؤ او د بغاوت په تودو شېبو کښې انګریزي فوځ په صف کښې درېدلي وو او د بغاوت په کوټلو کښې ئې د هغوۍ مرسته کړې وه، هغو ته جنګیالي نسلونه یا توکمونه ؤ ویل شول.
په هند کښې چې کوم اولسونه د تاریخ په اوږدو کښې استوګن پاتي شوي دي هغوے تر منځ مذهب، مسلک، رنګ، او توکم (نسل) توپیر موجود وو، خو دغهٔ توپیرونه کله هم د داسي تضاد یا اختلاف پېلامه نه دي

ګرځېدلي چي خلګ دي په ټولنيزه او کلتوري توګه د يو او بل څخه بېلتون او پردي توب اختيار کړي. د هند په تاريخ کښې داسي ډېر واقعات شتون لري چي د مرهټه په لښکر کښې تر ټولو ستر توپچي ابراهيم خان ګاردي يو افغان د احمد شاه ابدالي و مخ ته لکه دېوال درېږي، هم دغۀ ډول په لښکرونو، دربارونو، او ټولنيزه سويه اولسونو د خپلو دغۀ توپير يو ډول اثر کله هم نهف دے پرې اېښی.

د عسکري تاريخ نامتو ليکوال Timothy H Parsons د مارشل رېس (جنګيالي نسل) تهيوري څه دا ډول را پېژني؛

According to the concept of “martial races”, certain ethnic, religious, caste or social groups were regarded as possessing a more masculine character, as being loyal and therefore especially suited for military service. On the other hand, “non-martial races” were regarded as unfit for fighting. They were often members of higher castes and belonged to an educated and politicized middle class; they were thereby considered dangerous and disloyal to the British Raj. (3)

ژباړۀ:

"د جنګيالي نسل تصور ځيني نسلونه، مذهبي، قبيلوي او ټولنيزي ډلې په فطري توګه تر ځېني نورو توکمنونو ذيات نارينه او وفاداره ګڼي، او هغوے د عسکري خذمتونه لپاره غوره فهموي. و بل پلو ته "غير جنګيالي نسلونه" د جنګ لپاره غوره نه ګڼل کيږي، په دغو کښې ذياتره د لوړو ټولنيزو ډلو يا توکمونو څخه وو، يا بيا هغۀ متوسط طبقه (منځنۍ ډله) وه چي ذيات پکښې تعليم يافته او په سياسي توګه متحرک خلګ وو، ځکه دغه خلګ د برتانوي واکمنۍ په وړاندي ستر خطر او د بې وفائۍ علامت وګڼل شول".

د پښتنو په حقله د انګريزي استعمار اند دلته تر ډېره حده بدل شو، ولي چي د آزادۍ په جنګ کښې پښتنو عسکرو د برتانوي ګټو لپاره د هغوی د افسيرانو سره اوږه په اوږه درېدلي وو. ځکه د آزادۍ د جنګه وروسته چي کله د مارشل رېس تهيوري منځ ته رغله نود شمال مغربي سرحد، نيپال او پنجاب ذياتره قبيلې لکه پښتانۀ ،ډوګره، جټان، سکهان، راجپوتان، ګورکيان وغيره د عکسري خذمت لپاره غوره مناسب (Fit) و بلل شول.

که څه هم دغۀ تهيوري (نظريه) د انګريزي استعمار له خوا د قومونو يا اولسونو تر منځ يو فطري خصوصيت و ګڼل شوه، خو داسي نه ده، ولي چي د نړۍ پر سر هيڅ يو قوم يا اولس په فطري توګه جنګيالے نه پيدا کيږي بلکه د دې تر شابشپړۀ سياسي او ټولنيز حالات او حقيقتونه وي. ليکوال Timothy مخته ليکي چي دغۀ بيانيه د سامراجي طاقت د جواز لپاره د يوه هتيار په ډول وکارول شوه،دغه نظريه مخصوص ډول کلتوري او نسلي توپير پيدا کړ،په هندوستان کښې چي کوم قبيلوي، نسلي او مذهبي توپيرونو شتون درلود هغۀ ته ئې هم يو بيلوالے او امتياز فطري رنګ ورکړو.

د دې پاليسۍ له سوبه په لږ وخت کښې د برتانوي سامراج يا د ملکې په فوځ کښې د مارشل ريس سره علاقه لرونکي يو په درې زيات شو. د هم دې وخت يو بل عسکري مورخ(David Omissi) ليکي چي په کال ۱۸۶۸ کښې د برتانوي هند په فوځ کښې د پنجاب او شمالي پښتونخوا (شمال مغربي سرحد) برخه صرف ۲۸ فيصده وه،

خو په کال ۱۹۱۴ کښې دغۀ تناسب تر ۵۸ فیصده پورې ورسېدئ، په هم دغۀ ډول د مرکزي بنګال د سیمو، د مدراس څخه د انګریز فوځي عسکر له ۴۰ فیصده څخه کم کړل شو او په کال ۱۹۱۴ کښې ۱۱ فیصده ته را ورسېدل.(4)

دوو محققینو لکه Randاو Wagner په دې حقله یوه مقاله لیکلې ده ،د هغوے د څېړنې له مخې چې په کال ۱۸۶۲ کښې د مرکزي او شمالي هندوستان د قومونو او نسلونو څخه د برتانوي راج د فوځ پاکولو عمل پېل شو، او د بنګال، بمبئ، او مدراس هغۀ تربیت یافته عسکر چې د ایسټ انډیا کمپنۍ سره ئې د پلاسي په جنګ کښې برخه اخیستې وه، او د کمپنۍ د ګټو لپاره ئې ډېرې قربانیانې ورکړې وې، هغوے د عسکري ماموریت څخه لیرې کړل شول.له ۱۸۶۲ څخه بیا تر ۱۹۱۴ پورې د مدراس ۴۰ بټالین فوځ ختم کړل شو،او د بمبۍ ۳۰ بټالین فوځ څخه ۱۸ تحلیل شو، او د هندوستانیانو ۲۸ بټالین فوځ تر ۱۵ پورې را کم کړل شول، په هم دغه وخت کښې د نیپالي ګورکیانو تعداد په فوځ کښې څلور چنده ذیات شو، ته په ترتیب سره را کم کړل شو، او هم دغه ډول د پنجاب او پښتونخوا څخه هم په فوځ کښې دغومرې تعداد منتخب کړل شو. (5)

تر لومړي نړیوال جنګه پورې د برتانوي هند ۷۵ فیصده فوځ د هند د درو صوبو یعني پنجاب، شمال سرحدي صوبه (اوسنے خیبر پښتونخوا) او نیپال سره تعلق درلود. د کمپنۍ په ضد په بغاوت کښې لویه برخۀ (۹۰فیصدۀ) د بنګال رجمنټ وه، د دې تر څنګ موږ وینو چې د هندو مذهب برهمن هم د دې برخه وو، ګڼ شمیر د اتر پردېش، بهار، او مغربي بنګال عسکر وو، مرهټان هم په ګڼ شمیر کښې د برتانوي هند د کمپنۍ په فوځ کښې شامل وو، خو کله چې په د آزادۍ د جنګ نغاره و ګرنجېده نو د برتانوي هند تاریخ ئې بدل کړ. منګل پانډې کوم چې د دې پاڅون سر لښکر ګڼل کیږي هم د بنګال د رجمنټ څخۀ ؤ، د دې پرته تاتیه تروپ چې د کمپنۍ په فوځ کښې یو لوړ پوړے افیسر ؤ او راني لکشمي بائي دواړو په کانپور او ګوالیار کښې د کمپنۍ د لښکرو سره کلکه ډغره ؤ وهله، دا دواړۀ مرهټان وو، او څکه د هندوستان په راتلونکي ۶۵ کلونو کښې د نورو توکمنو تر څنګ مرهټان هم د غیر جنګي توکمونو په قطار کښې و شمېرل شول.

د سکهانو، ګورکیانو او پښتنو په منځ کښې د جسماني وجاهت او قد وقامت په لحاظ ډېر څه مشترک نه دي، یو شے چې سره ورته دے هغه دو دوے قبائلي هوډ، د لیک ولوست د تناسب کمبوت او په ټولنیزه توګه د هند د نورو توکمنو څخه پردي توب یا بیګانګیت ؤ. د دې درو توکمنو ځان ته ځانګړے یو خصوصیت دا هم ؤ چې دا پر خپل ځاے د هندومت، سکهمت او اسلام یعني د هندوستان د درو لویو مذهبونو سره علاقه لرونکي خلګ وو.

د مارشل ریس تهیوري بنسټ پر څه ؤ؟ دا سوال چې کله موږ د مباحثو په تنقیدي فریم کښې ګورو نو دلته خبره د "مارشل" ریس له سره نه ده، بلکه هغۀ قومونه چې د کمپنۍ په فوځ کښې خذمت کاوه او هغوے د کمپنۍ د حاکمیت په ضد بغاوت وکړ، هغو ته غیر مارشل یا غیر جنګي نسلونه ؤ ویل شول، کوم چا چې د کمپنۍ د مفاداتو او د هغوی حاکمیت لپاره د بغاوت کونکو و مخ د اوسپنیز دېوال په څېر ودرېدل هغوے ته "مارشل ریس" ؤ ویل شوه. لکه څه ډول چې د پېښور او نورو اېل شویو پښتني سیمو انتظام د پنجاب په صوبه کښې تر سره کېدے ، څکه نو د مشرقي پنجاب او د میداني سیمو د پښتنو تر منځ په یوه رجمنټ کښې ډیوټي کولو مواقع پر خپل ځاے یو قدر مشترک ؤ، چې وروسته ئې دواړۀ د انګریز سرکار په خذمت کښې د نورو قومونو په مقابل کښې ذیات وفاداره او تعبېداره ثابت کړل. انګرېز تاریخ لیکونکے په دې حقله یو بشپړۀ کتاب لیکلے دے چې د هیند د

ستر پاځون وروسته برتانوي راج د مارشل رېس یا جنګیالي توکمنو دغه نظریه د څه مقصد لپاره وکاروله ، هغهٔ لیکي:

"Military efficiency was not the sole reason for this policy; the need for martial races within the army was necessary to offset fears regarding masculine and racial degeneration within both imperial and British society and culture" (6)

ژباړه: د دې پالیسۍ یواځینۍ وجه عسکري ورتیا زیاتول نه وه، بلکې په فوځ کښې دجنګیالي نسل موجودګي د دې لپاره ضروري وګڼل شو چې په برتانوي امپراتورۍ او ټولنیز کلتور کښې د نارینه وجاهت لرونکو توکمنو په حقله یرې را کمې (متوازن) کړل شي.

قومونه په فطري توګه یا خو جګیالي وي، یابیا جنګیالي نه وي ،دا یوه داسې مفروضه وه چې د اتلسمې او نولسمې صدۍ برتانوي بشر پوهانو او نسل پوهانو ورته یو نړیوال حقیقت ویلو.

"Ethnographers argued that climate, diet, and forms of community organization all contributed to a community's "martial" nature, although in practice, British military administrators also chose martial races based on which groups they believed were unlikely to rebel."(7)

ژباړه: د یورپ نسل پوهانو دا دلیل درلود چې آب و هوا، خواړهٔ، او د یوې ټولنې تنظیمي جوړښت د خلګو د جنګي فطرت په جوړولوکښې مهم رول لوبوي، برتانوي فوځي مامورینو هم له هغو جنګیالي نسلونو څخه په فوځ کښې عسکر واخیستل چې هغوی ته ورځخه د بغاوت اندېښنه کمه احساسېده.

خو د دې حقیقت یو بل او ډېر مهمه اړخ دا هم ؤ چې برتانوي هیند پر دې خاوره دا ځایي خلګو څخه داسې عسکر جوړول غوښت چې هغوی د ملکه ویکټوریه او برتانوي امپراتورۍ د خپل شعور او فکر داسې برخهٔ جوړه کړي چې هیڅکله ئې وربادنې دا شک پیدا نه شي چې انګریزي لښکري دلته د لوټ مار، ظلم و جبر، او حاکمیت لپاره راغلي دي، بلکې هغوی برتانوي حکومت د هیند او پښتونخوا د اولسونو د ستر لاړښود او تهذیبي مرستیال په صفت و پېژني. د دې لپاره هغوی ته کلیوال او غرني خلګ پکار وو، چونکه پښتانه او د هیند نور جنګیالي نسلونه قبائلي هم وو، او کلیوال هم ؤ، د سیواد یا خواندګۍ تناسب ئې هم کم ؤ، ځکه نو د هغوی په زهنونو کښې د دې سوال د راپورته کیدو امکان بیخي کم ؤ چې هغوی دې دومرې سیاسي ، ټولنیز یا تاریخي شعور لري چې د برتانوي راج په استعماري چلونو دې پوهه شي او بیا دې د هغوی په مقابل کښې خپل پلان یا منصوبه ولري.

لکه څه ډول چې په هندوستان کښې زموږ و مخته پښتانهٔ ، جټان، ګورکها او سیکهان لوی مارشل ریسز یا جنګیالي نسلونه یادېږي هم دغه ډول په شرقي افریقه کښې کمبا یوه قبیله وه چې د برتانئې د عسکري مامورینو له لوري د جنګیالي نسل په صفت و پېژندل شوه او بیا دغهٔ قبیله دآزادۍ وروسته هم د کینیا په ریاست کښې د عسکریت پر دنده وګمارل شوه، لکه څه ډول چې د نیپال ګورکیان په هندوستان کښې تر ټولو زیات موثر جنګیالي یادېدل، په افریقه کښې بیا هم دغهٔ "کمبا" قبیله داسې وه چې د برتانئې د فوځ سره سره شاعرانو او قیصه لیکونکو ئې هم د باتورۍ او شجاعت داسې داستانونه بیان کړي دي چې هغوی ته پخپله هم یقین نه وربادنې راتلو. کله چې په دویم نړیوال جنګ کښې و امریکا ته د عسکرو ضرورت پېښ شو نو هغوی ولاړ د امریکا هغه لرغوني او اصلي اوسېدونکي چې د امریکا یورپي نسلونو وربادنې څلور سوه کلونه باداري کړې وه او هغوی

ټبوغرونو ته ټېل وهلي وو، په هغوی کښې هم دغه خوره کړۀ چې "سره انډئینز" د جنګ کولو پر اسراره او روحاني صلاحیت لري، د نړۍ پر سر تر دوی بل هیڅوک باتوره ، ننګیالي او جنګیالي نشته.(8)

## د جنګیالي نسلونو د تهیوري سیاسي معیشت:

لکه څه ډول چې مو وختي ذکر وکړ چې د هند ستر پاڅون په نتیجه کښې پر هندوستان د برتوني راج یا د ملکې نېغۀ په نېغه حاکمیت ته جواز ورکړ، تر دې وخته پوري د یورپ بشرپوهانو او نسل پوهان چې موږ ورته په عمومي توګه ختیځ پوهان وایو پر دې خبره یوه خوله وو چې د هدنوستان دغۀ انساني ټولني د ارتقا او پرمختګ په وروستیو پړاوونو کښې ولاړې دي،

د مارشل رېس تهیوري یو سامراجي لاملِ دا ؤ چې د قبضه شوي وطن اولسونو په نسلونو، مذهبونو، قبیلو او څانګو کښې داسي سره و وېشي چې د هغوی لپاره د بلواسطه حکمرانۍ یا (Indirect rule) کولو لپاره زمینه هواره شي.(9)

د میک موهن په لوړه حواله کښې موږ ولوستل، د انګریزي فوځ د ملکه ویکټوریه په وخت کښې هم دا یو مهم چینلج خپل مخ ته ایښےؤ چې هغوی به دهند دجنګیالي قومونو څخه څه ډول یو داسي فوځ جوړوي چې هغوی په مشیني توګه خپلي وفاداریاني د ملکه ویکټوریه او د برتانوي هند د ګټو یا وقار سره داسي تړي چې بل هر څۀ (دین، قوم، قبیل، ژبه، نسل) د هغۀ و مخ ته کوشنےاو بې معنا ښکاره شي. هغۀ په خپل یاد شوي کتاب کښې په لومړې سر کښې داسي لیکي:

> The Jat Sikhs mighty and curled of beard, the Jutes from Jutland, with them Moslem and Hindu Rajput, the fierce Hillman from the frontiers, the Tartar from Nepal that we know as Gurkha, … the great White King, had summoned them and that his white officers would lead them and his white troops fight by their side. (10)

ژباړۀ:

" په درخته دنګ او د پیچلو ږیرو جټ-سیکهان،د جټانو د سیمي جټستان څخه هندو او مسلمان راجپوتان، د سرحدونو سخت جانه غرني خلګ (پښتانۀ)، دنیپال تارتاریان چې اوس ئېموږ د ګورکیانو په نامه پېژنو، دا ټوله د یوه سپین پوستي باچا په امر به د باچا د سپین پوستي افیسرانو په مشرۍ کښې به د هغه سپین پوستي فوځیان د دوی سره اوږه په اوږه جنګیږي".

په هم دې کتاب کښې میک موهن مخ ته لیکي چې په هند کښې که په یو چا کښې د تهذیب او سړي توب لږ و ډېري نخښې نښانې شته نو هغه به هم هغۀ کسان وي چې د برتانوي هند په فوځ کښې به ئې د یوه عسکر په توګه کار کړےوي. دلته تهذیب، وقار، وفاداري ټوله داسي ټکي دي چې په بشپړۀ توګه ئې ګټۀ د برتانوي استعمار واکمنۍ ته ځي . د ملکه ویکټوریه د فوځ دغه چک چکه موږ د کپلینګ په شاعرۍ او لنډو کیسو کښې په بشپړه توګه کتلےاو لیدلےشو، هغۀ څه ډول د نوبل سیویج او بیا د مارشل ریس تهیوري ته یوه فطري او وقدرتي جامه ورغوستې ده هغۀ پر خپل ځای یو بېلې څېړني ته اړتیا لري، خو دلته دا یوه خبره بیا هم د کولو ده چې د ملکې فوځ د یوه خاندان په ډول روزل، په هغۀ کښې د مذهب، رنګ و نسل او ذات تفاوت ختمول، او هغۀ یوائې د ملکې

او برتانوي استعمار د ګټو لپاره په يوه ميکاني يا مشيني توګه روزل د استعماري تاريخ يوه لويه واقعه ده چې د نن پر سياسي او ټولنيزو حالاتو ئې نېغ په نېغه اثرات ثبت کړل.

انګريز حاکم د فوځ وفادار عسکر خپل سکنےورور ګڼي، دغه وروروليBrotherhood) يواځې تر دې حده ده چې د وفا په بدل کښې بادار د هغه د باتورۍ بدلي وائي. فيلډ مارشل لارډ رابرټس چې د دوئم افغان-انګريز جنګ مشري ئې په غاړه وه، په خپل کتاب "يو څلوېښت کاله په هند کښې" د هغو عسکرو ډېر ذيات صفتونه کړي دي کوم چې د مارشل ريس په نامه پېژندل شوي وو.

د کمپنۍ په ضد د بغاوت کوټلو وروسته پښتانهٔ او سکهان عسکر په فرسټ پنجاب انفنټري کښې يو ځاے پاتي شوي دي، کله چې د آزادۍ د جنګ پر اوور اوبه تو ےشوې، پښتنو، سکهانو او د نيپال ګورکيانو د باغي عسکرو و مختته لکه اوسپنيز دېوال ودرېدل، نو د هغه وروسته و باغې عسکرو ته د سزا ورکولو مرحله راغله، په دې لړ کښې لارډ رابرټس ليکي چې انګريزي آفيسرانو پرېکړه وکړه چې د کورټ مارشل لپاره بائيد د پنجاب انفنټري ځايي افيسران و بغاوت کونکو ته سزا ورکړي، په دې حقله يو پښتون صوبيدار مېجر مير جعفر چې د لومړي انګريز-افغان جنګه وروسته د کمپنۍ په فوځ کښې شامل شوے و، او پر هر جنګي محاظ ئې د خپل جنګي لياقت او وفادارۍ قيصې رقم کړي وې، د دې کورټ مارشل "صدر" و ټاکل شو.هغه دوه عسکر چې په بغاوت کښې برخه اخيستې وه "چاند ماري" کړل. فيلډ مارشل په خپل دې اثر کښې د يوه بل پښتانهٔ " محمد ګل" قيصه هم کړې ده چې په کال ۱۸۵۰کښې د کوهاټ د نيولو په جنګ کښې دوه ځايه ټپي کيږي او کله چې ئې د زنکدن وخت راشي نو هغهٔ د کمپنۍ د فوځ و آفيسر ته څه داسي پېغام پرېږدي:

While he was dying, he said, with a smile on his face,:“Sahib: I am happy: but promise me one thing, - don’t let my old mother want, I leave her for your care”.(11)

ژباړه:

کله چې هغهٔ مرګنےو، و مسېدئ ، هغهٔ و ويل: صاحبه! زه ډېر خوښ يم، خو غواړم چې تاسو يوه ژمنه راسره وکړئ، هغه دا چې زما د سپين سري مورکۍ خيال به تاسو ساتئ".

که چيري موږ د "محمد ګل" د ذهني روئې څېړنه وکړو نو يوه خبره خو دا جوتيږي چې د هغهٔ سره پرته د وفادارۍ بله هيڅ يوه نظريه يااثاثه نه وه، دا چې د انګريز هغه خپل جائيز بادار او مالک ګڼلو، يوه داسي روئيه ده چې کله د محکومو انسانانو د شعور برخه جوړه شي نو هغوے ته دا هرڅهٔ حقيقت ښکاري. لکه څه ډول چې د برازيل نامتو تعليم پوهه، پاولو فرېرې ليکي چې، د محکومۍ په چاپېريال کښې روزل شوي انسانان پاےمحکومي نه محسوسوي، هغوے خپل شعور له لاسه ورکړي او پا ےد خپل حاکم يا بادار په شعور ګزاره کوي، په داسي حالاتو کښې وفاداري پخپله يو مقصد پاتي شي، او د خپل بادار يا حاکم مرضي او خوښي د هغهٔ محکوم انسان مرضي او خوښي جوړه شي.

د فيلډ مارشل لارډ رابرټس په دې خودنويشت کښې د مارشل ريسسز يا د جنګيالي قومونو په حقله ډېره په زړه پوري قيصې راوړل شوي دي، هغهٔ په هم دې اثر کښې يو بل ځاے پر دې خبره ډېره وياړي چې د افغانستان پر محاذ (د دوئم جنګ په دوران کښې)، د هغه سره شپږ سپاهيان بدرګه وه چې پکښې دوه سکهان، دوه پښتانهٔ او دوه ګورکيان وو.

د مارشل رېس تهیوري چې یو بل ټک خوري هغۀ دا هم دے چې د سکهانو او پښتنو برعکس "ګورکیان" چې عموما ئې پر مخ وېښته نه وي، او په قد تر پښتنو یا سکهانو عسکرو یو نیم فټ کم وي څه ډول د ټیټ قد په سوب تر مرهټانو، یا د منځني هند تر توکمنو ذیات ګټل کېدے شي، دلته بیا خبره دا مخته راځي چې هغوے ډېر زړور او بې ویري جنګیالي دي او د هند تر هر توک یا سنل زیات وفاداره دي.

کله چې ګورکیان د فیلډ مارشل لارډ رابرټس سره د افغانستان پر محاذ ځي، نو هغۀ لیکي چې زموږ په خپل فوځ کښې هم ذیاتره خلګو پر دې خندل چې دا ټېټکیان (کوتاه قد) او بې ږېري عسکر به د افغانانو سره څه ډول و جنګیږي چې د نړۍ ستر جنګیالےقوم دے ؟.

که چیري موږ د جنګ آزدۍ وروسته د برتانوي هند فوځي اداري نوي رغبنت ته وګورو،او د برتانئې د نیشنل آرمي میوزیم یوه ننداره وکړو نو د نورو په زرۀ پوري معلوماتو سره سره به په دې هم پوهه شو چې دلته په میوزیم کښې د یاد شویو جنګیالي نسلونو پګړیاني هم هغۀ ډول تړلي پرتي دي. په پنجاب رجمنټ کښې د پښتنو یعني افریدو، یوسفزیو، او خټکو ځان ته د پګړۍ تړلو بېل بېل طرزونه وو، او د پنجابي مسلمان، سکهانو او ډوګره راجپوتانو د پګړۍ تړلو طرزونو ځان ته بیل وو. دلته یوه خبره بیا واضح کیږي چې په فوځ کښې د عسکرو یا ځایي افیسرانو په هېڅ کارکونکي پښتانۀ د مخصوصو سیمو او قبیلو څخه وو. بل دا چې انګریزي استعمار پښتانۀ د یوه ملي توکم پر ځاے د قبائلي توکم پر بنیاد پېژندلي دي. ولې چې هم دغۀ د بلواسطه حکمرانۍ یا د پښتنو د سیاسي، او ټولنیز وېش تر ټولو مهم شناخت ؤ (او نن هم دے).

## د جنګیالي نسل د تهیوري فلسفیانه تاویلونه:

و مارشل رېس تهیوري ته علمي بنیادونه د ملکه ویکټورئې د وخت نامتو نسل پرسته فلسوف هربرټ سپینسر ورکړل. هغۀ د چارلس ډارون د افکارو څخه تر ډېره حده متاثر ؤ. د یادوني ده چې چارلس ډارون د "فطرت د چڼ" او د " پیاوړي د ژوند د بقا" تصور وړاندي کړ، د دې تصور مطابق "هر هغۀ ژوے چې طاقتور وي ژوندي پاتیږي او کامیابه وي، او هر هغۀ ژوے چې کمزورےوي د مرګ ، ناکامۍ او نابودۍ شومه شي.

هم دغۀ تصور هربرټ سپینسر د ټولنیزو علومو او اخلاقیاتو په ډګر کښې په کار راوست. هغه دا تصور وړاندي کړ چې انساني ټولني پر دوو ډولو وېشل کیدے شي، یوه هغۀ چې ورته "عسکري" وئیل کیږي او بله هغه چې ورته "صنعتي" وئیل کیږي. عسکري ټولني د صنعتي ټولنو په مقابل کښې کمه ارتقا کړې وي او بائید عسکري ټولني د صنعتي ټولنه په مشرۍ کښې خپله ارتقا وکړي.

خو داخبره جوته ده چې د نولسمې صدۍ په دویمه برخۀ کښې چې په نړۍ کښې د جنګیالي نسلونو کومه نظریه را منځ ته شوه هغۀ د دې سره هیڅ حقیقت نه درلود چې ځیني قومونه عسکري وي او ځېني غېر عسکري. د هر برټ سپېنسر په دې نظریه کښې پخپله یو لوےتضدا دا هم دے چې آیا کوم قبیلې یا نسلونو چې عسکري یا جنګیالي نه دي نو هغه صنعتي دي، کم ازکم په هیند کښې یا بیا په پښتنو کښې چې کومي مخصوصي قبیلو ته د برتانوي هیند په فوځ کښې ځاے ورکول شوےوو، د هغوے پرته دا نوري قبیلې ټولې صنعتي دي؟

لومړےخبره هم دا ده چي په هند کښې يو داسي فوځ جوړول چي هغهٔ د برتانئې د تخت و تاج ژغورنه وکړي او د هغوے د تللو وروسته بيا د هغوے د بلواسطه حکمرانۍ او اثر و نفوذ لپاره زمينه برابره کړي، په هغهٔ کښې پښتانهٔ او پنجابي مسلمانان د هندوستان د مسلمانانو په استازيتوب واخيستل شول، چي دغه دواړه قومونو هيڅکله په ګډه د انګريز په ضد و مبارزې ته نه شي سره جوړېدے ، دويم د جټ، ډوګره او سيکهانو مخصوصي قبيلې هم داسي دي که چيري مسلمانان سره يو موټےشي او د برتانوي راج په ضد پاڅون کوي نو دغه نور مزهبونو يا نسلونو به حتما ورسره ونه دريږي، هم دغه مثال د ګورکيانو ؤ.

لکه څنګه چي لوړ مو ولوستل چي دغه نسلونو د بنګال يا د شمالي اومنځني هندوستان د اولسونو غوندي نه ول چي دا مهال ئې د برتانوي سامراج په ضد په موثره توګه سياسي مبارزه روانه کړې وه، چونکه کلکته د برتانوي هند لومړےاو تر ډېره وخته پوري مرکز پاتي شوےدے ، څکه نو دلته د برتانئې د غلامۍ د جغ څخه د غاړۀ ايستلو لپاره باسواده، هنرمندو، او تعليم يافته ځوانانو او ځاے په ځاے ښځو د مبارزې ميدان تود کړےؤ. دلته اوس د جنګيالي نسل د عسکرو يو لوےکار دا ؤ چي د هم دغۀ سياسي او د خپلواکۍ د حق د ګټلو پر موخه روان غورځنګونو ته د اوسپنيز ديوال غوندي ودريږي. نامتو بشر پوهه چارلس لنډهولم په خپله يوه تحقيقي مقاله کښې دغه پديد ه (مظهر) داسي بيانوي:

More importantly, the martial races, when co-opted into the Raj, could be used as a police force to put down rebellions of the contemptible peasants and babus. Consciously or unconsciously, the colonial mentality recognized the tribal warriors as men” (12)

ژباړۀ: مهمه دا ده چي جنګيالي توکمونه چي کله په برتانوي سرکار کښې ورګډ کړل شو نو دهغوے د بې توقيره کرونده ګرو (کاشت کارانو) او د بابوګانو (د هندوستان باسواده خلک) د غورځنګونو په کوټلو کښې هغوے برخۀ واخېسته. (البته) په شعوري يا غير شعوري توګه (انګريز) استعماري زهنيت قبائلي جنګياليانو د مېړونو په صفت پېژندل".

په نولسمي او شلمي صدۍ کښې هسي هم و دا ډول مفروضو ته د نظرياتو ښهٔ ورکول څه ګران کار نه ؤ. ميک موهن، او جنرال رابرټس چي د جنګيالي نسل کومه تهيوري فطري او حقيقي ثابته کړې وه هغه د برتانئې او د يورپ په نورو سيمو کښې هم ډېر زيات شهرت و موند ، خو خبره دلته پاے‌ته نه رسيږي. دنسل پر بنيادتشکيل شوےد ملکي وفادار هندوستاني فوځ ته د نړۍ تر ټولو ستر فوځ وئيل د رابرټس سره سره د نورو جنرالانو او عسکري ليکوالانو په ليکنو کښې هم تر سترګو کيږي. د جنګيالي نسلونو سره تړلي قيصې د نولسمې صدۍ په وروستيو او د نولسمي صدۍ په لومړيو کلونو کښې د برتانيه په اخبارونو، جاسوسي ډائجسټونو، او ناولونو کښې هم تر سترګو کيږي. په هم دې وخت کښې چي د پښتنو يا نورو جنګيالي نسلونو په حقله کومي اتهناګرافي پلټنې (د قومونو د اصل او نسب په حقله تحقيق) پر هغه هم د دغۀ تهيوري اثرات جوت پاتي دي، څکه خو موږ وينو چي د پښتنو د اصل او نسب ځيني خلک د د سکندر مقدونوي سره مبنلوي، ځينو بيا دغه سرينښته د نورو جنګياليانو سره مبنلولې ده.

په کال ۱۹۱۱ کښې میجر جیورج مک موهن د هندوستان دبرتانوي فوځونو په حقله چي کوم کتاب لیکلي دي په هغۀ کښې دمارشل رېس تهیوري په حق کښې ډېر دلایل وئیل شوي دي، هغۀ په دې حقله یو ځائے لیکي:

—It is one of the essential differences between the East and the West, that in the East, with certain exceptions, only certain clans and classes can bear arms; the others have not the physical courage necessary for the warrior. Sikhs, Dogras, Pathans, Rajputs, Jăts, and Gurkhas – these (among others) were the —military races of India that made possible the wide reach of the British Empire. (13)

ژباړۀ:

په ختیځ (شرق) او لوېدیځ (غرب) کښې بس دغۀ یو فرق شته، چي په شرق کښې ځیني داسي قبیلې او ذاتونه دي چي د اسلحې ساتلو توان لري، نور له سره هغۀ جسماني حوصله (صلاحیت) نه لري چي د اسلحې پورته کولو لپاره پکار وي، سکهان، ډوګرا، پښتانۀ ، جټان،راجپوت او ګورکیان هغۀ نسلونه دي چي په نړۍ کښې یې د برتانوي امپراتورۍ د پراخولو امکانات پیدا کړي دي.

لکه څه ډول چي وختي هم ؤ وئیل شو چي د مارشل رېس تهیوري بنیاد په یورپ کښې هم د غره ایزو سکاټ لینډي قبیلو او پر هوارو اوسیدونکو سکاټ لینډیانو تر منځ د نسلي تفاوت، یعني د اصل او کم اصل، د جنګیالي، ننګیالي او مېړاني خصوصیات ئې له هغو سره وتړل چي په اسانه و جنګ کولو ته اماده کیږي. و بل پلوته په هند کښې هغۀ توکمنونه چي د انګریزي سامراج غلبه او قبضۀ ئې ناجایزه ګڼله او د خپل تاریخي سیاسي عمل په سوب ئې حالات بدلول غوښت، نسبتا په ښارونو کښې اوسیدل ،لیک لوست ئې زده ؤ او د حربي مهارتونه علاوه نور مهارتونه او هنرونه ئې درلودل هغه په خصوصیت سره د ملکې دراج (۱۸۵۷) څخه بیا تر لومړي نړېوال جنګه (۱۹۱۴) پوري د امپراتورۍ دښمنان ګڼل کېده.

کله چي موږ د د مارشل رېس د عسکرو په حقله د انګریزي استعمار د پالیسیانو یا لیکنو څېړنه کوو نو داسي ښکاري لکه چي د جنګ لپاره د جوړ کړو شویو مشینانو یا روبوټونو ذکر چي کیږي.

د مارشل رېس تهیوري چونکه پر هیڅ علمي یا عقلي دلیل نه وه ولاړۀ خو په هند کښې عسکري ادارې ته نسلي بڼه ورکول او پر نسلي بنیادونو خپلي امپراتورۍ ته دوام ورکول د برتانوي هند د هغۀ وخت یوه تګلاره وه.

د لومړي او دوئیم نړېوال جنګ په ترځ کښې چي د برتانوي هند له خوا کوم عسکر تر ټولو ذیات په باتورۍ جنګېدلي دي په هغو کښې هم ذیاتره د هم دې درو سیمو څخه دي چي پکښې د پښتنو شمال مغربي صوبه (خیبر پښتونخوا) ، پنجاب او اوسنےنیپال راځي. په لومړي نړېوال جنګ کښې و یوولس (۱۱) او په دوئم نړېوال جنګ کښې و اتویشت (۲۸) هندي عسکرو ته د باتورۍ تر ټولو ستره تمغۀ "ویکټورین کراس" ورکړل شو. په زړۀ پوري خبره دا ده چي د باتورۍ دغه ټولي تمغې هغو عسکرو ته لي دي چي د مارشل ریسز سره ئې تعلق درلود، او په اوسني هند، پاکستان او نیپال کښې مېشته دي.

. د برتانوي هند تر ټولو لومړےویکټوریه کراس خدائیداد خان[1] ګټلےدے . په لومړي نړېوال جنګ د برتانئې د باتورۍ تر ټولو ستر عسکري اېوارډ "ویکټوریه کراس" د اوسني وخت و درو پاکستانیانو ته ورکول شوےدے چي پکښې دوه پښتانۀ او یو پنجابےعسکر دے هم دغه ډول یو بل پښتون میر دست[2] هم په فرانس کښې د خپلي باتورۍ تاریخ رقم کړئ دے .

پایله:

د جنګیالي نسل د تهیوري تر شا یو لامل د پښتون افغان وطن مځکنےموقعیت هم دی، ولي چي انګریزي سامراج غوښت چي و برتانوي هیند ته چي د غربي څنډو څخه کوم خطر پېښ دےچي له سوبه ئې ستره لوبه (Great Game) منځ ته راغلې وه، د هغۀ تر ټولو ښه علاج به هم دا وي چي په دې سیمه کښې د ملکې داسي وفاداره لښکري ولري چي د پښتنو په شمول د نورو هغو ځواکونو و مختـه هم ودرېږي کوم چي په هند کښې د بارتانوي سامراج واکمنۍ ته خطر جوړېدلے شي.

دا چي پښتانۀ جنګیالي، باتور، ننګیالي، او په فطري توګه عسکر دي ، دایوه داسي مفکوره او مفروضه ده چي نن ئې هم خپل ارزښت بائللے نۀ دے، لکه څه ډول چي په نولسمه صدۍ کښې فرنګي سامراج دغۀ نظریه د مخصوص سامراجي مقصد لپاره، د پښتنو د ویشلو، یا د مسلمانانو د تقسیم کولو، یا په بله معنا د هند د نورو څنګلورو قومونو سره د پښتنو تعصب پیدا کولو لپاره دغۀ نظریه په عملي او تزویراتي توګه کارول شوې ده، د دې نظرئې مطابق پښتانۀ د عسکرۍ پرته د استاذۍ، هنر و مهارتونو، سیاسي او ټولنیز غورځنګونو او ګوندونو او د خپل حقوقو د پېژندلو او بیا د هغۀ د مطالبې یا باسخاست کولو داخلي صلاحیت نه لري، هغوے په دې کښې فخر او ویاړ محسوسوي چي د ملکې په نوکرۍ کښې د هغۀ د باتورۍ څومره اثر دے . که چیري موږ د برتانوي هند په تاریخ کښې د دې تهیوري حقیقت و پلټو نو د دې بنسټ ګر به موږ ته د هربرټ سپینسر پر ځاے الفنسټن ښکاره شي، ولي چي هم هغۀ د پښتنو او بنګالیانو تر منځ دغه توپیر د جنګ آزادۍ څخه قابو پینځوست کاله اول اټکل کړې ؤ. هغۀ پښتانۀ مرادنه او بنګالیانو ته وختي ښځولک/نک وئیلي ؤچي ذکر ئې لوړ تېر شو. د پښتنو مردانه، جنګیالےاو روایتي انځور نن هم د روان وخت په رسنیو او فلمونو کښې تر سترګو کیږي، کوم چي د پښتنو په ژواک

---

[1] خدائیداد خان په کال ۱۸۸۸کښې د یو پښتون په کور کښې سترګي غړولي دي، مور و پلار ئې د پنجاب سیمي "چکوال" ته کډۀ کړې ده،هغۀ په ۱۲۹ بلوڅي رجمنټ کښې یو معمولي سپاهي ؤ، په لومړي نړیوال جنګ په اول کال کښې د جرمن فوځونو د مخ نیوي لپاره د هندوستان څخه د برتانوي فوځونو په کومکي دسته کښې تللےدی، په فرانس کښې یي د جرمني د ځواکونه په خلاف د مشین ګن ډېر ستر استعمال کړےدی، هغوے ته ئې دروند زیان رسولےدی، ټوله ورځ جنګېدلے دےاو د شپې په تیاره کښې ئې په سکیدلو تر خپلو ملګرو ځان رارسولوےدی، ویکټوریه کراس ئې د برتانئې د باچا جیورج پنځم څخه په بکنګم محل کښې تر لاسه کړئ دی، تر ۱۹۷۱ پوري ژوندےیاد شوےدی.

[2] میردست هم د خدائیداد خان غوندي د "تیرا" اوسیدونکےؤ په اول نړیوال جنګ کښې د اتحادي ځواکونو په ننګ وتلئ ؤ په ۱۸۹۴ کښې د برتانوي هند په فوځ کښې کار پېل کړ ، اوپه کال ۱۹۱۵ کښې د لاهور ډویژن سره په فوځ کښې د جمعدار په هېڅ فرانس ته تللےدی، په فرانس کښې ئې د خپلي باتورۍ تاریخ رقم کړےدی، د اتو انګریزي او نورو اتحادي افیسرانو ژوند ئې ژغورلےدےاو د مشین ګن د ماهر په توګه ئې تر ډېره وخته د جرمن فوځونو مخه نیولې ده، جیورج پینځم هغۀ ته "ویکټوریه کراس" په خپل لاس ورکړ ، په کال ۱۹۵۴ کښې وفات شو ، د هغۀ د ژوند په حقله نور معلومات د دې ویب پاڼي څخه تر لاسه کیدےشي.
https://www.gov.uk/government/case-studies/ww1-pakistani-vc- mir-dast (Last acessed MArch 2, 2019)

او اجتماعي ثقافتي ورثې کښې د مینې، رواداری، برداشت، جوړجاړي، عفي، ټولنیز اصلاح، سیاسي مفکورې، لنډه دا چې د هر تهذیبي علامت څخه کورټ په تضاد کښې دے .پښتانۀ د برتانوي هند لیکوالانو قبایلي څرګند کړي دي، او دلته ئې د پښتنو ټولنیز ساخت کله هم د ملي هویت یا ملي اجماع جوګه نه دےبللی، هم دغه لاري چاري د هند د وېشه وروسته هم په کار راوړل شوي دي، او د نوي وخت کلتوري، سیاسي او تعلیمي اداري پښتانۀ هم هغۀ ډول د عسکري یا جنګیالي نسل علامت ګڼي لکه څه ډول چې د برتانوي راج تر ټولو لوےشاعر رډیارډکیپلنګ چې په خپل نظم (East is East) او په خپل ناول (Kim) او لنډي قیصې (The Emir's Homily)کښې څرګند کړي دي(14).

**References:**

1) Kakar, Dr Barkat Shah. (2011). *The Pursuits of Pashtun Image in the Orientalist Discourse*. TAKATOO Issue 6, Vol 3 Pages 34-45
2) MacMunn, Sir George. (1961)*The Martial Races of Indi,* Sampson Low, Marston and Co, London. P. 202.
3) Parsons, Timothy (1999): Wakamba warriors are soldiers of the Queen. The evolution of the Kamba as a martial race, 1890-1970, in: Ethnohistory 46/4 pp. 671-701.
4) Ommisi, David (1994), The Sepoy and the Raj, 1860- 1940 , macmillian Press London, p.11
5) Rand, G., & Wagner, K. A. (2012). Recruiting the 'martial races': identities and military service in colonial India. *Patterns of Prejudice*, *46*(3-4), 232-254.
6) Surridge, K. T. (2007). Martial Races: the Military, Race and Masculinity in British Imperial Culture, 1857-1914. *Journal of Victorian Culture*, *12*(1), 146-150.
7) Lanzillo,Amanda(2020). Racializing Craftsmen: How British Martial Race theory erased Pathan artisanship; URL https://ajammc.com/2020/07/26/pathan-artisanship-india/ Last accessed Feb,2,202
8) Parsons, T. H. (1999). "Wakamba warriors are soldiers of the queen": The evolution of the Kamba as a martial race, 1890-1970. *Ethnohistory*, 671-701.
9) Lugard, F. D. (1954). The Dual Mandate in British Tropical Africa (London, 1922). *Classical economic history in this tradition include Hancock, Survey, and P. T. Bauer, West African Trade*, 1968-75.
10) MacMunn, Sir George. (1961)*The Martial Races of Indi,* Sampson Low, Marston and Co, London. P.4
11) Roberts, Field Marshal Lord. (1901). 41 Years in India: From Subaltern to Commander in Chief, Macmillan and Co limited, New York, p.68
12) Lindholm, C. (1980). Images of the Pathan: The usefulness of colonial ethnography. *European Journal of Sociology/Archives Européennes de Sociologie*, *21*(2), 350-361.
13) MacMunn, Sir George. (1961)*The Martial Races of Indi,* Sampson Low, Marston and Co, London. P. 211.
14) Kakar, Dr Barkat Shah. (2021). *Da Pashtano Pa Haqla da Khateez Pohanoo Andoona aw Anzoroona*. Pashto Academy Quetta.p.432